## نچوړ

غوږ د الله تعالی لوي نعمت دي چې انسان ته الله وربخلی دی غوږ یو ډیر حساسه عضوه ده چې باید د انتاناتو او د ضربي ښخه وساتل شي غوږ د اناتومی له نظره په دریو برخو ویشل شوي دي چې یو یي خارجي برخه ده چې په سترګو لیدل کیږي چې Pena د ، External Auditory Canal او د غوږ پرده پکي شامل دي دوهمه برخه د منځني غوږ په نامه سره پیژندلی شو چې د بدن ترټولو وړوکو هډوکو ښخه جوړه شوي ده دري هډوکي لري Malleus ، Incus او Stapes چې ملوس هډوکی د غوږ پردي سره وسل دی کله چې پرده په اهتزاز راشي نو د ا هډوکي هم په اهتزاز راځي او د اوازونو ښپي د داخلي غوږ ته لیږي او بیا د عصابو په واسطه دماغو ته انتقالیږي خو کله چې د منځني غوږ التهاب رامنځته شي نو دا پروسه په سم ډول کار نه کوي او انسان غږ په صحیح توګه نه شي اوریدلی او ګنګسیت هم ورته پیدا کیږي او کله چې دا انتاني پروسه تر اوږد مهاله پاتي شي نو د غوږ د کونیوالي سبب هم کیږي او یا داخلي غوږ هم په افت اخته کولی شي حتا چې Managetis ته هم لاره مستعد کوي نو باید په وخت سره یي درملنه وشي تر ښو اخطلاتات ورنه کړي.

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هدف :

هدف د موضوع عامه پوهاوی دی چې ټولنه کې د ټولني خلک په دي پوهه شي چې الله ج مونږ ته زيات نعمتونه رابخلي دي چې د هغي څخه يو غوږ هم راځي باید مونږ د الله ج نعمتونو څخه په سالمه توګه ګټه پورته کړو او حفظ الصحي خيال وساتو ځکه عالمان واي چې صفاي نیم ایمان دي .

بله دا چې زمونږ راتلونکي کوم نوي محصلین دي د دي معلوماتو څخه پوره ګټه پورته کړي او نور هم تشویق شي چې په اینده کې د دي نه هم ښه معلومات راټول کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## Ear غوږ

ځرنګه چي ما ته د Otitis Media يعنی د منځنئ غوږ التهاب  په نوم موضوع راکړل شوي ده دا يو د غوږ يو انتاني ناروغي ده مخکي له دي چي مونږ د يو عضوی امراض وپيژنو بايد د هغي نه مخکي د عضوي اناتومي او فزيالوژي وپيژنو نو اول راځو چي غوږ وپيژنو او د غوږ اناتومي او فزيالوژي باندې خبري کوو.

### غوږ

غوږ : غوږ د الله تعالی يو داسي تخليق دي يا يو داسي نعمت دي چي انسان ته الله تعالی وربخلی او انسان پري اوازونه اوري ، بدن موازنه برابره ساتي او د انسان په ښکلا کي هم رول لوبوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# Ear Anatomy د غوږ اناتومي


د غوږ موقیعت : غوږ د Skull یا د کوپړۍ په دواړو خواو کې د Temporal Bone ( R - L ) یعني د ښي او چپ ټیمپورل په ساحه کې موقیعت لري.

د اناتومۍ له مخې غوږ مونږ په دری برخو ویشو چې اسانه شي او ښه پرې پوهه شو.

1 - External Ear د غوږ خارجي برخه

2 - Middle Ear د غوږ منځنۍ برخه

3 - Inner Ear د غوږ داخلي برخه



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د غوږ خارجي برخې External Ear


د غوږ خارجي برخه له درې برخو څخه جوړه شوې ده چې عبارت دې له:

1 - The Pinna یا صیوان
2 - The External Auditory Canal د غوږ شپیلۍ یا دغوږ بهرنی مجرا
3 - The Tympanic Membrane د غوږ پرده

### Pinna صیوان :

بهرنی غوږ د غضروفو ، ډیر نښتي پریکاندریوم او پوستکی څخه جوړ شوې دې یعنی دا برخه د Cartilage په واسطه جوړه او د Skin په واسطه پوښل شوی ده .

بهرنی غوږ Pinna د اواز د څپو په راټولو کې مرسته کوې چې د بهرنی د غوږ مجرا ته یې برابره کړې او تر Tympanic Membrane ته یې ورسوی.



(c) ketabton.com: The Digital Library




## External Auditory Canal د غوږ شپیلی یا د غوږ مجرا:

د دې مجرا اوږدوالی د ۲۵ ملی مترو په شاوخوا کې وي چې د اسکلیټ ۱/۳ خارجی برخه یې د غضروف څخه جوړه شوې ( هغه برخه چې د ویښتانو او سیرومنو غدې ceremonial gland لرونکې دې ) او ۲/۳ داخلي برخه یې د هډوکنی اسکلیټ یا جوړښت لري.

د مجرا د داخلی برخې پوستکی په متزاید ډول نرى کیږي ( د غوږ بهرنی مجرا د خولې څخه چې څومره د غوږ پردې خواته نږدې کیږي خپل ضخامت د لاسه ورکوي ) چې ډیره التصاقي او حساس دی.

د غوږ د شپیلی په داخلی اخرني برخه کې یو ژوروالی موجود دی چې د anterior inferior recess په نامه یادیږي او په دغه ځائ کې Wax او نور تخریب شوي انساج او خارجي اجسام پریوځي.



(c) ketabton.com: The Digital Library




## Tympanic Membrane د غوږ پرده:

د غوږ پرده یو شفافه او نازکه پرده ده چې د منځنی او خارجي غوږ تر منځ واقع شوې ده.

د غوږ پرده د دریو طبقو یعني جلد ، فبروزي او مخاطي غشا څخه جوړه شوي خو د Pars Flaccid په برخه کي د فبروزي طبقي نسج موجود نه دی او صرف دوه طبقي لري د غوږ نورماله پرده مکدار او ملغلرې په شان رنګ لري چې د مقعر شکل د درلودلو له کبله د رڼا وړانګي په مشخصه او روښانه توګه منعکس کیږي.

دغه پرده له دری طبقاتو څخه ترکیب شوی ده:

- Cuticular layer
- Fibrous layer
- Mucus layer



(c) ketabton.com: The Digital Library

## Middle Ear د غوږ منځنۍ برخي


دا د Tympanic Cavity یا Tympanum په نوم سره هم یادیږي ، چي دا جوف په دوه برخو ویشل شوي دی.

Proper tympanic cavity چي د Tympanic membrane په مقابل کي قرار لري.

Epi tympanic cavity چي د Tympanic membrane څخه پورته واقع ده

منځنی غوږ د Temporal هډوکي په Posterior کي موقیعت لري او شپږ دیوالونه لري.

- Superior wall ( Tegmen tempani )
- Inferior wall ( Jugular wall )
- Anterior wall ( Carotid wall )
- Posterior wall
- Lateral wall ( Membranous wall )
- Medial wall ( Labyrinth wall )



(c) ketabton.com: The Digital Library

# Middle Ear — د غوږ منځنی برخي

منځنی غوږ په عمده ډول د دریو هډوکو څخه جوړ دی. Malleus ښتک ، Incus سندان ، Stapes رکاب.

## Malleus ښتک:

دا ښتک ته ورته شکل لری نو ځکه ورته Hammer هم وایی ، دا هډوکی په منځنی غوږ کي تر ټولو غټ هډوکی دي او لاندې برخي لري.

Head , Neck , Handle , Process , Anterior , Lateral





FIGURE 662.2 Malleus: Anterior View




FIGURE 662.3 Malleus: Posterior View




FIGURE 662.4 Malleus: Lateral View

## Incus سندان :

دا سندان ته ورته شکل لري نو ځکه ورته Black Smiths ویل کیږي دا Molar غاښ په شان دی او لاندې برخي لري.

Body , Long Process , Short Process

## Stapes رکاب:

دا رکاب ته ورته شکل لری ځکه ورته Stirrup هم وایي دا تر ټولو کوچني او انسی واقع هدوکی د منځنی غوږ دي چي لاندی برخي لري.

Head, Neck, Foot plate, Limbs, Anterior, Posterior




FIGURE 662.5 Incus: Lateral View



FIGURE 662.6 Incus: Medial View



FIGURE 662.7 Stapes: Superior View


(c) ketabton.com: The Digital Library



:Inner Ear

دا د Labyrinth په نوم هم یادیږي چي دوه برخي لري:

- Bony labyrinth
- Membranous labyrinth



## Parts of Bony labyrinth


- Chochlea
- Vestibule
- Semicircular canals

## Parts of Membranous labyrinth

د Membranous labyrinth د صفا شفاف مایعي څخه ډکه ده چي د Endolymph په نوم یادیږي

د Bony labyrinth او د Membranous labyrinth په منځ کې چي کوم خالیګاه وجود لري او په هغي کې چي کومه مایعه موجود وي هغه د Perilymph په نوم یادیږي.

Bony labyrinth دري برخي لري چي Cochlea په اوریدو کې او Semicircular canal او Vestibule د بدن د موازني په ساتلو کې رول لوبوي.




(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غوږ فزیالوژي — Ear Physiology

د غوږ عمومی دنده د اواز د اوریلو او د بدن د موازني ساتلو ته کله چې Pena یا د غوږ پکی د محیط څخه د اواز چیپ را ټولوي او بیا یی د Auditory Canal ته ور استوي وروسته د غوږ شپیلی څخه د غوږ په پرده دا د اواز چیپ لږیږي او د غوږ پرده په اهتزاز راولي او منځني غوږ ته دا چیپ انتقالیږي او د دریو هډوکو په واسطه دا چیپ کوکلیا ته ورکول کیږي او په کوکلیا کي د اوریدلو حجرات په ځان کي دا چیپ جذبوي او په الیکتروني سیالو باندي یي بدلوي وروسته بیا دا سیالي د قحفي ازواج اتم زوج ته ورکوي چې د Vestibular Cochlea Nerve په نوم یادیږي .

Cochlea خپله د غږ یا اواز عصبي سیستم ته لیږدولو دنده لري او Vestibule د بدن موازنی په ساتلو کي رول لوبوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## التهاب ( Inflammation )

ټول ژوندي موجودات غوارې چې له خپله ځانه پردی وردننه شوي موجودات لومړه شوي انساج لري کړي دا کړنه یو پیچلي میکانزم په واسطه منځته راځي چې التهاب ورته وايي.

## تعریف :

د لمسونکیو عواملو پر وړاندي د وجود موضعي عکس العمل او غبرګون ته التهاب واي . یو شمیر زیات دننی او بهرنی لمسوني په منضم نسج کې پیچلي عکس العمل رامنځ ته کوي چې د زیاتو اوعیو لرونکي دي دي غبرګون ته التهاب واي چې د صدمي له رسیدو سره پیل او په التیام ختمیږي.

التهاب په اصل کې د زیانمنو پر وړاندي یو دفاعي عملیه ده چې پکي په مسلسل ډول په اوعیو او منضم نسج کې بدلونونه رامنځته کیږي ، یعني په زیانمن ځاي کې ژونینکي او Exudates لیدل کیږي.

که څه هم التهاب یوه داسي عملیه ده چې پکي انتان له ساحی څخه پاکیږي او زیانمن ځاي د رغیدو حالت ته ځی خو ځیني وختونه نه خوښیدونکي اعراض هم منځ ته راوړي مثلا د ځیني حشراتو تر چیچلو یا د ځینو دواګانو له تطبیق وروسته Anaphylactic reaction ( فرط حساسیت ) رامنځته کیږي یا ځیني مزمن امراض لکه Rheumatoid Arthritis او Atherosclerosis منځ ته راوړي یا مثلا کله چې په Pericardium کې بکتریایي التهاب وشي وروسته ندبه ( Scar ) په خپل ځاي پریږدي چې په پایله کې د Fibrosis له کبله د زړه دنده ځنډیږي.

## التهاب په عمومي ډول په دوه ډوله ویشل کیږي:


**الف – حاد التهاب ( Acute inflammation )** چې نسبتا لند دور لري له څو دقیقو څخه تر څو ورځو پوري وي د Exudates اړ د نیوترفیلو شتوالی په زیان لیدونکو ځایو کې وي.

ب – مزمن التهاب ( Chronic inflammation ) چې ډیر وخت نیسي له څو ورځو څخه تر کلونو پوري . په دي التهاب کې د لمفوسیایتو او مکروفاژوننو ارتشاخ ( د واقعي په ځاي کې ) او د انساجو ترمیم او تخریب لیدل کیږي ترمیم د اوعیو د تکثر او Fibrosis سره ملګری وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د التهاب لمسونكي عوامل له حجراتو او پلازما څخه د Chemical mediator د افراز يا ازاديدو لامل گرځي ، چې نوموړي Chemical mediators د اوعيو او حجراتو غبرگون تنظيموي التهابي غبرگون هغه وخت له منځه ځي چې Chemical mediator ( وساطت كوونكى ) له منځه ولاړ شي.




په التهاب كې د لمفاوي عقداتو او لمفاوي رگونو ونډه:

هغه مايع چې په التهابي ساحه كې راټوليږي لمفاوى عقدې او لمفاوي رگونه يې په ويستلو كې مرسته كوي او په Mononuclear phagocytic system كې د دويم دفاعي خط رول لري. دا كار هغه وخت پلى كوي ، چې موضعي التهابي غبرگونونه ذ زيانمنو موادو په له منځه وړلو كې پاتې راشي.

لمفاوى رگونو انتي جينونه او لمفوسايټونه له محيط څخه لمفاوي مركزي عقداتو ته ليږدوي . ( يعنى دا هغه ځائ دى چې T&B حجراتو او انتيجن وړاندي كوونكي ژونديكو په مشترک ډول دنده پلى كوي ) همدا راز په التهاب كې د لمفاوي جهاز سيستم جريان هم زياتوي ( شفائي كمک هم كوي ) د التهابي اذيما ، WBC او تخريب شوى نسج په تخليه كولو كې هم مهمه ونډه لري. خو په خواشينى سره نوموړى تخليه د زيانمن عامل د خپريدني باعث هم گرځي چې په پايله كې يې د لمفاوي غونډال


(c) ketabton.com: The Digital Library



کانالونه هم منتن شي او د Lymphangitis باعث شي او ممکن د عقداتو د التهاب Reactive lymphadenitis باعث هم وګرځي.

له نیکمرغه لمفاوی جهاز په زیاتره حالاتو کې پر انتان باندې غالب وي خو کله کله انتان په لمفاوی جهاز غالب شي چې له امله يي انتان ويني ته داخل شي ( یعنې Bacteremia یا Viremia شي ).

Mononuclear phagocyte system يو بل دفتعي خط دى چې د انتاناتو په کنټرول کې رول لري خو په شديدو پيښو کې نوموړى خط هم پاتي راځي میکروب په انساجو کې شيندل کيږي چې زړه ، پښتورګې ، سحايا او مفاصل دي کار ته مناسب ځایونه دي یعنې انتخابي ځایونه يې دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



د منځني غوږ التهاب یعني د منځني غوږ د جوف یو قیحي انتان او التهاب دي دا ډول انتان اکثرا د هغو انتاناتو په واسطه مینځ ته راځي کوم چې د مخه دوامداره په ناروغ کې د ستوني درد ، ریزش یا نورو تنفسي ناروغیو سبب شوي وي . او له محرقاتو څخه یي منځني غوږ ته سرایت کړی وي دغه سببي عوامل عبارت دي له : ویروسي یا بکتریایي انتاناتو څخه دي.

د احصایي له مخي چې د منځني غوږ د منتن کیدو په اړین تر سره شوي دي داسي په ګوته شوي چي تقریبا 75% ماشومان د ژوند په دریمه ورځ په نوموړي ناروغی باندي یو ځل اخته شوي او هم د دي کوچنیانو نیمایي برخه ماشومان د ژوند تر دری کلنی پوري دري یا تر دري ځلو زیات د منځني غوږ درد ( التهاب ) څخه معالج ته راوستل شوي دي همدارنګه نوموړی مشکل په هغه کوچنیانو کي زیات لیدل کیږي کوم چي په بعضي ولادي تشوشاتو او ځني ناروغیو باندي اخته زیږیدلي وي لکه : Cleft Palate او Down Syndrome سره.

ولي کوچنیان د کاهلانو په پرتله په دي ناروغیو زیات اخته کیږي؟ دلته ډیر دلایل موجود دي .

**لمړی –** کوچنیان نسبت غټانو ته انتان سره په جګړه کې زیات مواجه وي ځکه د هغوئ معافیتي سیستم مکمل شوي نه وي او د ودي په حال کې وي .

**دوهم –** په کوچنیانو کې Eustachian Tube کوچنی ، لنډ و مستقیم او د ستونی پورتنی برخه په لنده توګه د مینځني غوږ جوف سره نښلوي. نوموړی تیوب معمولا تړلی وی خو په منظم ډول سره د منځني غوږ د جوف د تازه هوا د اخیستلو لپاره خلاصیږي او تهویه کیږي د بلي خوا څخه نوموړی تیوب دنده لري چې د اتموسفیر او منځني غوږ د هوا فشار تر مینځ موازنه تامین کړي په هر صورت که چیري نوموړی تیوب د انتان د مداخلي په اثر منتن او التهابي او وتړل شي او یا دا چې د لزوجي مکویدي مادی د کتلي په واسطه بند شي نو د تهویي په وخت کې نه راخلاصیږي او د وسطي غوږ د جوف هوا نه تازه کیږي یعني په نوموړي جوف کې مایع راټولیږي او د تیوب د نه خلاصیدو په صورت کې راټوله شوي مایع بهر ته نه وځي او د میعي د راټولیدو له کبله د منځني غوږ جوف د مایع څخه ډکیږي

بل مهم فکتور چې د منځني غوږ التهاب د مینځته راوستو مسؤل ګڼل کیږي هغه له Adenoid څخه عبارت دی . Adenoid په کوچنیانو کې نسبت کاهلانو ته لوي او غټ وي ادینوید د جوړښت له پلوه


(c) ketabton.com: The Digital Library



د لمفوسایت د حجراتو یو مجموعه ده چي د انتاناتو په مقابل کي د کوربه یا میزبان په پلوی جګړه کوي د دوی د هستوګنی ځائ د ستوني د علوي برخي شاته Eustachian تیوب ته نژدي موقیعت لري نو کله چي Adenoid د ځنو عواملو له کبله وپرسیږي یا توسع وکړی د Eustachian Tube د تړل کیدو سبب کیږي یا دا چي که Adenoid د انتاناتو په مداخله منتن شي نو په هغه صورت کي نوموړی تیوب هم منتن کیږي او بالاخره تړل کیږي.

## پتوجنیزس ( Pathogenesis )

کله چي د Eustachian Tube د موضوعي انتاناتو ( Pharyngitis ) په واسطه سره یا د ضخاموي اودینوید له امله وتړل شي بکتریاګانني مینځنی غوږ په افت اخته کوي د منځني غوږ د جوف ایسار شوي هوا له سره رشف او جذبیږي او په نوموړي جوف کي منفي فشار مینځ ته راولي او جوف ته د بکتریا د را رسیدو زمینه مساعد ګرځوي دغه ریفلکس یعني د بکتریاګانو رارسیدنه منځني غوږ ته او له جوف ځخه د افرازاتو نه وتل او بندش بلعوم ته د دي سبب کیږي چي د متوسط غوږ په جوف کي مایعات راټولیږي او د بکتریاو په واسطه منتن کیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## اسباب:

### Bacteria

بکتریا د ټولو لاملونو په نسبت یو ډیر معمول اجینټ دي چې د منځني غوږ التهاب رامنځ ته کوي تر ټولو عام اورګانیزمونه عبارت دی له :

- Pneumococci
- ( 15 – 25% ) هیمو فیلوس انفو انزا
- Moraxella catarhalls ( 12 – 20% )
- د A ګروپ Streptococci
- Streptococcus Pneumonia ( 15 – 40% )
- Staphylococcus aureus ( acut and chronic otitis media )
- Paeudomonas aeruginosa ( chronic otitis media )

په یاد مو باید وي چې د انفی بلعومي له ساحې څخه بکتریاګاني یا هغه بکتریا چې له Tympanocentesis څخه تجریدیږیکومه اړیکه نه لري.

### Virus وایرسونه:

ویروسونه د غوږ د التهاب د مستقیم سبب لپاره دومره مهم نه دي خو په هر حال د پورتني طرق تنفسي ویروسي انتنانات د استاخین تیوب د بندښت رامنځ ته کولاي شي چې د بکتریاګانو د نشونما لپاره زمینه مساعده وي.

- رینو ویروس
- CMV
- RSV


پورته ویروس په 25 % – 20 واقعاتو کې د پتوجن انتاناتو په ډول پیژندل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مساعد کوونکي فکتورونه :

- هغه ماشومان چې په غریبو کورنیو کې ژوند کوي
- هغه ماشومان چې عمرونه یې د یو کال څخه کم وي
- ډاون سنډروم
- په یخو ارتفاعاتو کې اوسیدل
- په اب و هوا کې نا څاپي تغیر راتلل
- ساختماني نقیصه چې استاخین تیوب دنده خرابوي لکه Cleft Palate
- د معافیت فقدان



(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلینیکي تظاهرات :

د منځني غوږ په انتان اخته ناروغان لاندي تظاهرات لري:

- ناروغان تبجن حالات لري
- مخرش
- ماشوم اکثرا خپل په افت اخته غوږ راکیکاږي
- نوموړي ناروغي معمولا 7 – 1 ورځي وروسته د انفي بلعومي له التهاب څخه مینځته راځي
- په Otitis Media اخته ناروغ له کانګو څخه هم شکایت لري
- اکثرا اسهال هم ورسره وي
- سر چرخي یا ګنګسیت هم لري
- د غوږ څخه د افرازاتو راوتلو شکایت هم لري
- د غوږ د درد څخه شکایت لري
- د اواز د اوریدو ضیاع
- د ماشومانو ژړا کول
- په غوږ کي د اجنبي اجسامو حس کیدل
- بي خوبي



(c) ketabton.com: The Digital Library



یو نورمال او روغ غوږ کي که د Otoscop په واسطه مثبت یا منفي فشار وارد شي د طبل غشا ( Tympanic membrane ) ازادانه او په نورمله توګه سره په حرکت راځي که چیري نوموړي پرده په غور سره ولیدل شي نو د هغه رنګ ګلابي رنګ ته ورته وي او د یوي سکي پشان رڼا له مرکزه قدام خلفي ځنډو ته په معمول ډول سره خپروي یا انعکاس ورکوي مګر بر عکس په التهابي غوږ یعني Otitis Media ولري نو د Otoscop سره په معینه کي لاندي تظاهرات په سترګو کیږي.

د غوږ پرده یا د طبل غشا راوتلي او غیر متحرکه وي ، سور رنګ لري د مخکیني نبسي نبساني لکه د Malleus د Short process له مینځه تلل ، د بلي خوا څخه د دي امکان هم موجود وي چي د غوږ پرده ریچر وکړي د نوموړي پردي یا غشا په سوري کیدو یا ریچر سره درد هم له مینځه ځي .



(c) ketabton.com: The Digital Library



## تشخيص :

د منځني غوږ د التهاب د تشخيص لپاره لاندي ميتودونه په کار اچول کيږي.

### :Otoscope

د کوچنيانو ډاکتران د کوچنيانو د غوږ د التهاب د معلومولو او تشخيصولو لپاره يو اله کاروي چې د Otoscope په نامه سره ياديږي د دغي الی په مرستي سره کولی شو چې د غوږ داخلي مجرا او اړونده نقيقه يا کوم التهابی حالت معلوم کړو د غوږ د معاينې پر مهال بايد معاينه کوونکی لاندي شيان په نظر کې نيولو سره د غوږ بشپړ ارزيابي وکړي.

- سوروالی
- پړسوب
- وينه
- افرازات
- په منځني غوږ کې د مايع موجوديت
- د غوږ د بهرنی مجرا پړسوب

### :Tympanometry

د Tympanometry test په دوران کې ډاکټر يوه وړه اله کاروي چې په مرسته يې د غوږ فشار معلوميږي او که چيرته Eardrum ريچړ کړی وي هم يې معلوموي

### :Reflectomety

د Reflectomety ټيست په دوران کې ډاکټران يوه وړه غوندي اله په کار وړي چې د کوچني د غوږ په خوا کې اواز وباسي چې په مرسته يې يو ډاکټر کولی شي د اواز په اوريدو سره چې بيرته اواز منعکس کيږي د غوږ په داخل کې ميع معلومه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**:Hearing test**

د اواز د اوریدو معاینې سره د یو ماشوم یا د یو ناروغ د اواز د اوریدو قابلیت معلوموي.

**:Weber Test**

په Weber ټیسټ کې اهتزاز لرونکي صوتي پنجه په اهتزاز راځي او د ناروغ د سر له پاسه ایښودل کیږي که چیري غوږ په لیږدیز ( انتقالي ) کونوالي اخته وي دا غږ په اخته غوږ کې ډیر اوریدل کیږي او که په حسي کونوالي اخته وي نو غږ په سالم غوږ کې ښه اوریدل کیږي.

**:Rinne Test**

په Rinne تسټ کې اهتزاز لرونکي پنجه لومړي ځل پ ۴ سانتي مترۍ چې دغوږ خارجي برخې ته نیسي ( تر څو د غږ هوایي لیږد معلوم شي ) بل وار همدا صوتي پنجه د مستویډ له پاسه ږدو ( د اواز د هډوکني لیږد د معلومولو لپاره ) له ناروغ څخه پوښتنه کوو چې په کوم حالت کې اواز ښه اوري په نارمل حالت کې هوایي لیږد له هډوکني لیږد څخه پیاوړی دی.

**:ENG ( Electro Nistagmo Graphy )**

په ENG تسټ کې هغه برقي پوتنشیلي تغیرات په ګرافیکي ډول ثبتیږي چې د سترګو د غیر ارادي حرکاتو ، او رنګي تنبهتو په واسطه منځ ته راځي ، له دي څخه د Meniere ناروغی په تشخیص کې ګټه اخیستل کیږي له معاینې ۲۴ ساعته وړاندي باید الکول ، سګرټ او نور Sedative درمل د ناروغ په واسطه متوقف شي ( باید ځان ورڅخه وساتي او پرهیز وکړي )

د منځني غوږ په انډوسکوپي کې له یو ظریف انډو سکوپ څخه ګټه اخیستل کیږي د دي له پاره باید د تیمپانیک غشاء د لسو دقیقو لپاره بې حسه او خارجي غوږ د سلین په واسطه تعقیم شي وریسي د Tympanotomy مایکروسکوپي او یا د نیډل په مرسته انډوسکوپ د تیمپانیک غشاء له لاري تیر او کولاي شو تصویرونه واخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د منځني غوږ التهاب Otitis Media (OM)

د منځني غوږ التهاب په دوه ډوله دي Acute او Chronic يعني حاد او مزمن .

### د منځني غوږ حاد التهاب (AOM) :

د هغه منځني غوږ التهاب څخه عبارت دي چې دوام يي له شپږ اونيو کم وي ، لومړني سببونه يي ستريپتو کوکونه Streptococcus ، نوموکوکونه Pneumococcus او Hemophilus Influenza دي چې د استراخين تيوب کې د تشوش له رامنځ ته کيدو څخه وروسته د منځني غوږ ته لار پيدا کوي په استراخين تيوب کې کيدو سببونه په لاندي ډول دي:

- د علوي تنفسي لاري التهاب
- د ساينوسونو التهاب ( Sinusitis )
- الرژیک عکس العملونه د بیلګی په توګه Allergic Rhinitis
- دوامداره ريزش

نبني نښانی معمولا د انتان په شدت پوري اړه لري په بالغو وګړو کې معمولا يو طرفه وي او کيداي شي د غوږ له درد سره يو ځائ وي او ورسره د غوږ افرازات ، تبه او د اوريدلو حس کموالی هم مل وي د Otoscope په معاينې سره د غوږ کانال نارمل وي خو د غوږ پرده سره او ډيري مهال وتلي وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د منځني غوږ حاد التهاب درملنه:

- ماشومانو ته باید ارام ورکړل شي
- مایعات او کافي غذا ورته توصیه شي
- د غوږ افرازات يي د يو تعقيم ګاز په واسطه پاک کړل شي
- د درد لپاره ورته انلجيزيک يا د درد ضد درمل توصیه شي
- د تبي په خاطر ورته انتی پایریتیک ورکړل شي
- د تداوی په لومړي قدم کي ورته د ډيرو معمولو مايکرو اورګانيزمونو S.Pneumoniae and H influenza په ضد درمل ورته توصیه کيږي خو کله چې کلچر او حساسيت نتيجه معلومه شي درمل يي بدليږي ، د منځني غوږ حاد التهابکي انتخابي درمل Amoxicillin (80-90mg/kg/day) په دري تقسيم شوو ډوزونو باندي د 10 ورځو لپاره همدارنګه نور درمل چې د منځني غوږ حاد التهاب کي ورکول کيږي په لاندي ډول دي تداوي 7-10 ورځو لپاره توصيه کيږي.
- Clavulanic acid
- Erythromycin
- Sulfamethoxazole
- Cefaclor
- Cefuroxim
- Trimethoprim-Sulfamethoxaole
- Cefixime
- د Penicillin-resistant pneumococci لپاره دوهم اپشن Ceftriaxone 50mg/kg/d د IV يا IM له لاري OD تطبيقيږي يعني د ورخي يوځل ټوټل ډوز تطبيقيږي تر دري ورځو پوري يا Macrolide antibiotic ( azithromycin)
- هغه ناروغان چې د انتي بيوټيکو د دوهم کورس توصيه کيدو باوجود هم شفاياب نه شي او يا ناروغي يي لا هم شديده شي نو په دغه صورت کي د Tympanocentesis په اړه فکر کيږي چې تر څو اصلي سببي لامل په ګوته شي او دقيق انتي بيوتيک ورته توصيه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د منځني غوږ مزمن التهاب ( Chronic Otitis Media ) :

د منځني غوږ د حاد التهاب متکررو حملاتو له کبله منځ ته راځی او د غیر قابل تغیر بدلونونو او د پردي د سوري کیدو سبب گرځي.

د منځني غوږ مزمن التهاب نه یوازي د غوږ پرده سوری کوي بلکه هغه هډوکي چې منځني غوږ کې پراته دي ( څټک ، سندان او رکاب ) او مستوید هم تخریبوي.

نښي نښاني یي کیدای شي خفیفي وي اوپه بیلابیلو درجو د اوریدلو له کموالي په دوامداره ډول له غوږ څخه بدبویه افرازاتو له راتلو سره یو ځاي وي که چیري مستوید مصاب شوي وي نو د غوږ شاوخوا به سور رنګه او پړسیدلی وي

په پورته حالت لاندي ثانوي اختلاطات هم ممکن دي.

- د مستوید اختلاطات
- داخل القحفي اختلاطات لکه د سحایا التهاب ( Meningitis )
- دماغي ابسي

اخرني دوه التهابات له نادرو التهاباتو څخه شمیرل کیږي چې نادرا واقع کیږي.



### درملنه :

په موضعي درملنه کي یي د اتوسکوپ تر لارښوني لاندي سکشن شامل دی ، د قیح یا نو ( زوو ) لرونکو افرازاتو د درملني په موخه سکشن کوو په موخه انتی بیوتیک پوډر کارولای شو د غوږ د مجرا له پاکوالي څخه پرته د قطرو اچول کومه گټه نه لري هغه مهال چې حاد انتان رامنځته شي سیستمیک انتي بیوتیک هم کارولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جراحي درملنه :

که چیري درملیز اهتمامات ګټور نه وي له جراحی عملیي څخه استفاده کوو.


په جراحی کي یي لاندي عملیي شاملي دي:

- Tympanoplasty
- Ossiculoplasty
- Mastoidectomy

:Tympanoplasty

د منځني غوږ د مزمن التهاب له پاره معموله جراحي درملنه د پردي بیا جوړونه یا Tympanoplasty ده . د دي عملیات موخي په لاندي ډول دي:

- د منځني غوږ د دندو بیرته راګرځول
- د انتان مخنیوی
- د اوریدو ښه والی




(c) ketabton.com: The Digital Library



:Ossiculoplasty

د منځني غوږ د هډوکو بیا رغونه ده تر څو د اوریدلو حس اعاده شي. په دي عملیه کي مصنوعي پروتینونو لکه ټلفون ، اوسپني او د منځنیو غوږونو له نورو نښلوونکو موادو څخه په کي کار اخیستل کیږي.




:Mastoidectomy

د دي عملیات موخي په لاندي ډول دي :

- د تقشحاتو خارجول
- اخته برخو ته لاس رسی
- د غوږ د دندو ښه کیدل

که شوني وي د منځني غوږ هډوکي بیا ځلی رغول کیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## خلاصه:

غوږ د انتومی له مخي په دريو برخو ويشل شوي دي External Ear , Middle Ear & Inner Ear چې په خارجي غوږ کې Auditory Canal، Pena او Tympanic membrane شامل دي او په منځني غوږ کې Malleus، Incus او Stapes شامل دي او په داخلي غوږ کې Cochlea ، Vestibular او Semicircular canal شامل دي خو د منځني غوږ څخه يو ټيوب يا يوه لار د خولي جوف ته هم تللي ده چې د استراخين ټيوب په نوم ياديږي کله چې دا ټيوب د هر افت له وجه بند شي نو منځني غوږ په افت اته کيږي د دي ټيوب له لاري اکثرا انتان د منځني غوږ جوف ته داخليږي او د انسان د ناراحتی او د منځني غوږ د درد سبب کيږي دا ټيوب اکثر د تنفسي سيستم انتاناتو يا د ساينسو التهاب د وجه هم په افت اخته کيږي او خپله نورمال وظيفه سر ته نه شي رسولي او ټيوب بند پاتي کيږي چې له امله يي د منځني غوږ جوف د مايعاتو څخه ډکيږي او د انتاناتو د روش لپاره زمينه مساعد کيږي کله چې د منځني غوږ التهاب درملنه په وخت سره ونه شي نو د حاد التهاب څخه په مزمن التهاب بدليږي او نور اختلاطات هم ورکولی شي لکه : د غوږ کونوالی ، د مستويډ هډوکي اختلاطات ، meningitis او دماغي ابسي چې وروسته يي بيا درملنه جراحي او مشکله وي بايد مخکي له دي چې ناروغ جراحي ته کانديد شي بايد درملنه يي په وخت وشي.

د منځني غوږ التهاب معمولا په ماشومانو کې زيات وي ځکه د ماشومانو استراخين ټيوب ستوني ته ډير لنډ او نيغ وي ، د ماشومانو دفاعي سيستم هم کمزوري وي او هغه ماشومان چې Down سيندروم ولري او يا يي Cleft palate ساختماني دنده خرابه وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وړاندیزونه:

دغه موضوع چې د Otitis Media مربوط جوړه شوی که د کتاب په بڼه چاپ شی نو د هیواد والو د معلوماتو لپاره به یوه ښه سرچینه وی

هغه کسان چې په انګلیسی او یا عربي ژبو پوهيږي د هغو څخه هیله کوم چې په دغه دواړو ژبو کي معلومات ډیر زیات دي چې په پښتو کي يي ژباړه کړي او نیټ ته يي وچت کړي چي زمونږ محصلین او د درس شایقین په اسانه سره د يو موضوع معلومات راټول کړي او پر مخ ولاړ شي.

د الکوزی د طبی علومو انستیتیوت د اداری څخه دا غوښتنه لرم چې دغه موضوع په خپل کتابتون کی وساتی تر څو ګران محصلین تری استفاده وکړی .

**په درنښت**

**عطاءالله ( شینواری )**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Reference ماخذونه


- د لویانو د روغتیا نرسنگ 2 د چاپ کال ۱۳۹۸ ل / ۲۰۱۹ م
- Atlas of Anatomy Taj Books international ( January – 1- 2005 )
- https://www.lobe.ca/en/blog/childrens-hearing-health/ear-infection-children
- عمومي پتالوژي پوهندوی دوکتور محمد آصف دوهم چاپ د چاپ کال ۱۳۹۵ م
- غوږ ، پوزه اوستونی ډاکټر سید ملیار سادات د چاپ کال ۱۳۹۵ هـ
- Children Diseases Volume 1 by Professor Dr Ahmad Siar Ahmady

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**